لیکوال: هاري

07/09/2009 تاریخ

# د افغانستان ژوره کنده

د نیویارک ټایمز خبریال، کالمنسټ، او سیاسي مبصر، نیکولاس کریستوف، د افغانستان د پالیسی په باب ښاغلي اوباما ته ځیني سپارښتني لري چي لوستل يي ضروري ګنم. ښاغلي کریستوف کلونه کلونه په سیمه او افغانستان کي تېر کړي دي. هغه دغه راز وخت نا وخت د نیویارک ټایمز په ویبلاګونو کي د افغانستان په باره کي په سوال او جواب او بحثونو کي هم برخه اخلي. مقاله د سپتمبر پر ۶ مه نشر سوې ده، او تاسو يي نسبتا پوره ترجمه لولئ.

جمهورریس اوباما همدا اوس ۲۱۰۰۰ اضافه امریکایي عسکر افغانستان ته استولي دی، او ډېر ژر به د نورو اضافه عسکرو د استولو په باب فیصله کوي. دا به د هغه دجمهوري ریاست یو حیاتي او محوري تصمیم وي. خو په عین حال کي، د پخوانیو امریکایي استخباراتي مامورینو او ماهرانو یوه ډله غواړي چي د ښاغلي اوباما له پالیسی سره خپل مخالفت علني کړي. هغوی وايي: افغانستان ته نور اضافه عسکر ورلیږل یوه تاریخي اشتباه ده.

دا ډله چي زه هم کاملا ورسره موافق یم وايي د افغانستان پښتني سیمو ته نور اضافه عسکر وراستول به ځايي خلک لا زموږ پرضد راوپاروي او ډېر خلک به د کافرانو د دفع کولو او شړلو لپاره د طالبانو سره یوځای کېدو ته وهڅوي.

دغي ډلي ماته لیکلي دي، « زموږ پالیسي جوړونکي نه پوهېږي چي په پښتني سیمو کي زموږ حضور او شتون پخپل ذات کي پرابلوم دی. هر څونه زيات عسکر چي ور واستوو، په هغه اندازه مخالفت ډېرېږي. موږ ښورښ او مخالفت په زیاتو عسکرو نه سوو کمزوره کولای، بلکي اپوزشن لا غښتلی کوو، او پښتنو ته وایو چي طالبان رشتیا وايي . زموږ د لیډرشیپ ناپوهي او جهالت به زموږ ډېر ځوان او زړه ور امریکایي عسکر د مرګ ګوله کړي، خو هیڅ مثبته نتیجه به ور نه کړي .»

پدې ډله کي په پاکستان کي د( سي ای ې) د دفتر پخواني مشر ښاغلی هارټ؛ پخوانی سفیر ښاغلی ډېوېډ ، د ملي د فاع پوهنتون د ښورښ ضد ماهر او استاد؛ او د (سي ای ې) یو بل مامور چي په سیمه کي ۱۲ کلنه تجربه لري او په ۱۹۷۹ کي د شوروي اشغال پر مهال په کابل کي ستېشن وو.

ښاغلي هارټ د ۱۹۸۰ په کلونو کي دشوروي ضد مجاهدینو سره مرسته کوله. هغه امریکایانو ته د پښتني اقوامو د سرسختی، کلک هوډ، او بېساري ذاتي جنګي مهارتونو په باب خبرداری ورکوي. دی وايي که چیري متحده ایالات جنګ پراخ کړي، نتیجه به يي د پښتنو لا رادیکال او مخالفېدل وي، او ښايي پاکستان دونه بې ثباته کړي چي د سقوط سبب يي سي.

دا ډله داسي ماهران دي چي تبلیغات او شهرت نه غواړي، بلکي ما دېته مجبوره کړل چي خپل نظریات عام او د امریکایانو سره شریک کړي. زیاتره هغه خلک چي افغانستان پېژني، همدا راز مفکوره لري.

په کابل کي دېره د برتانیي پخوانی ډپلومات، روري ستیوارډ وايي، «موږ دونه غټه ګوله خولي ته کړې ده چي اوس يي ژوولای نه سوو.» هغه د افغانستان لپاره د امریکا نظامي ستراتیژي «چټیپاټ» بولي.

زه پدې باره کي څکه لیکني کوم چي زه هم همدا شان اندېښني لرم. زه په واشنګټن کي د هغو مقاماتو فیصلو اندېښمن کړی یم چي له طالبانو او سیمي څخه یو ساده او بسیط درک لري، او زما له هغه درک سره بېخي اړخ نه لګوي چي په افغانستان او پاکستان کي مي د کلونو کلونو رپوټونو تر جوړولو او سفرونو را وروسته تر لاسه کړی دی.

د پښتنو په مینځ کي د طالب او غیر طالب توپیر ډېر ګران دی. پښتانه یو لړ پېچلو اجتماعي ستونزو، غوښتنو، او وحشت او ډار را ایسار کړي دي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

له زياتو پښتنو سره چي ما مرکي کړي دي د طالبانو له بي رحميو او وحشته بېزاره دي ، او فکر کوي چي هغوي افراطيان دي. هغوي طالبان سرټمبه او ليوني بولي. مګر همدا پښتانه د طالبانو شخصي صداقت، تقوا، او مذهبي عقايد ستايي. هغوی طالبان د حامد کرزي د فاسد حکومت سره پرتله کوي.

ځيني طالبانو سرټمبه او پرته له مذهبي شرارته په بل هيڅ شی نه پوهېږي، خو زياتره ځکه د طالبانو سره يوځای سوي دي چي ملګرو او کليوالو يې همدا کار کړی دی، ځيني د خپلو دوستانو د مرګ د بدل اخيستلو په منظور ور ګډ سوي دي، د ځينو نورو لپاره همدا د رزق او روزي پيدا کولو يوازنی لاره ده، ځيني د کفارو سره د غزا په نيت ور دانګلي دي، ځيني بيا د هغو بهرنيانو پر خلاف جنګيږي چي هم يې د هغوي ملک اشغال کړی دی او هم يې د سړکانو ابادولو، د پلونو جوړولو ، او د اوبو لګولو د پروژو وعدې هسي خوشي او غلطي وې.

که چيري – البته خدای مکړه-- يوه ډله بهرني مسلمان او ړېره ور جنګيالي د خپلو ټوپکانو او بګړيو سره زما په کلي او ايالت اوريګن کي يوه ورځ بابېره را ښکاره سي، او سمدستي زموږ د کورونو تلاشي پيل کړي، او هيڅ خير يي هم را و نه رسېږي، زه يقين لرم چي زموږ د خلاصون لاره به دا وي خپل چي ښکاري ټوپکان را واخلو، غرو ته مه کړو، او په مقاومت او ښورښ لاس پوري کړو.

واقعيت دا دی چي پدې وروستيو کي د امريکا پوځ خپل سلوک ډېر اصلاح کړی دی. په افغانستان کي ځيني امريکايي قوامندانان ښه ځلېدلي دي، خو ټول قومندانان دا ډول ندي. لنډه داچي زموږ پراخ حضور پښتانه دېته اړ باسي چي موږ ته د اشغالګرانو په سترګه وګوري.

همدا وجه ده چي سږ کال اضافه عسکرو حالات ارام او کرار نه کړل، بلکي ۲۰۰۹ همدا اوس لا د امريکايي عسکرو لپاره د ټولو تېرو کلونوپه پرتله مرګانی کال دی. حال داچي ددي کال څلور مياشتي لا پاتي دي.

حل نه له افغانستانه بالکل راوتل دي او نه هم هلته خپل عسکر دوه برابره کول دي. بلکي موږ هلته هرومرو بايد يوه وړه قوه ولر چي وظيفه يي د افغان د پوځ رزول، د لويو ښارونو د امنيت په ساتلو کي مرسته کول، او د القاعدې د بيا منظمېدو مخه نيول وي. موږ دغه راز مجبوره يو چي په تعليم او تربيي او زراعت کي پانګه واچوو، ځکه له همدې لاري کولای سو چي پښتانه له طالبانو را جلا کړو.

دا به يوه ناقصه او ګډوډه ستراتيژي وي، هم به يې اهداف ډېر لوړ او عالي نه وي، خو په سياسي او نظامي لحاظ به د زغملو او تعقيبولو وړ وي، او به د زياتو امريکايي ځوانانو وژل را کم کړي.


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de